**بسم الله الرحمن الرحيم**

## د الله په لاره کې پر مرز پیره کول

**(ژباړه)**

لـه محمـد بـن منکـدر څخـه روایـت دی، چـې سـلمان فـارسي د شرحبیـل بـن سـمط لـه څنګـه پـه داسـې حـال کـې تېرېـده، چـې هغـه د مـرز پـه سـنګر کـې پیـره کولـه او لـه خپلـو ملګـرو سره پـه سـخت وضـعیت کـې و، سـلمان هغـه تـه وویـل: اې ابـن سـمط! ایـا د رسـول اللـه صـلی اللـه علیـه وسـلم لـه حـدیث څخـه دې خـبر کـړم؟ شرحبیـل وویـل: هـو، وواېه! سلمان وویل: له رسول الله صلی الله علیه وسلم څخه مې اورېدلي چې وېې فرمایل:

«**رِبَاطُ يَوْمٍ فِي سَبِيلِ اللَّهِ أَفْضَلُ (وَرُبَّمَا قَالَ) خَيْرٌ مِنْ صِيَامِ شَهْرٍ وَقِيَامِهِ، وَمَنْ مَاتَ فِيهِ، وُقِيَ فِتْنَةَ الْقَبْرِ، وَنُمِّيَ لَهُ عَمَلُهُ إِلَى يَوْمِ الْقِيَامَةِ**» (رواه ترمذي)

***ژباړه:*** *د الله په لاره کې یوه ورځ پر مرز پیره کول د یوې میاشتې روژې له نیولو او د شپې لخوا یې له قیام کولو څخه غوره یا خیر دي؛ که په همدې حالت کې څوک وفات شي، د قبر له فتنو څخه به په امن وي او عملونه به یې د قیامت تر ورځې پورې زیاتېږي.*

امـام نـووي وايـي: د مـرز د پیره‌کـوونکي لپـاره دا یـو څرګنـد فضـیلت دی، چـې عمـل یـې تـر مـرګ وروسـته هـم دوام کـوي او دا فضـیلت یـوازې د مـرز تـر پیره‌کـوونکي پـورې محـدود دی چـې بـل انسـان تـه دغـه ډول فضـیلت نـه دی ورکـړل شوی. له صحیح مسلم پرته د حدیثو په نورو کتابونو کې داسې راغلي دي:

«**كُلُّ مَيِّتٍ يُخْتَمُ عَلَيْهِ عَمَلُهُ إِلَّا الْمُرَابِطَ فَإِنَّهُ يُنَمَّى لَهُ عَمَلُهُ إِلَى يَوْمِ الْقِيَامَةِ انْتَهَى**»

***ژباړه:*** *هر انسان چې وفات شي، عمل یې پای ته رسېږي، پرته د مرز له پیره‌کوونکي څخه، چې د قیامت تر ورځې پورې یې عملونه زیاتېږي او په هغې ورځ به پای ته رسېږي.*

د جهـاد یـوه برخـه د مـرز سـاتل دي او د مـرز سـاتل یعنـې د مسـلمانانو د قـوي کولـو لپـاره پـر مـرز پیـره کـول دي. هـر هغـه سـیمه چـې د دښـمن لـه مـرز سره پرتـه وي، دښـمن د هغـې سـیمې لـه خلکـو او د هغـې سـیمې خلـک بیـا لـه دښمن څخه وېرېږي. پـه بـل عبـارت مـرز هغـې سیمې تـه ویـل کېـږي چـې شـا تـه یـې د اسـلام مـرز نـه وي او پـر مـرز لـه پیـرې څخـه موخـه پـر مـرز پـاتې کېـدل دي، چـې مسـلمانانو تـه د عـزت ورکولـو او د کفـارو لـه شر څخـه یـې د خونـدي کولو لپاره کارول کېږي.

د دښـمن د احـتمالي بریـد د دفـاع لپـاره پـه هـر ځـای کـې درېـدل، پـر مـرز د پیـرې پـه معنـا دي او د ربـاط (مـرز سـاتل) کلمه له (رباط الخیل) څخه چې په قرآن کې راغلې، اخیستل شوې ده:

﴿**أَعِدُّواْ لَهُم مَّا اسْتَطَعْتُم مِّن قُوَّةٍ وَمِن رِّبَاطِ الْخَيْلِ تُرْهِبُونَ بِهِ عَدْوَّ اللّهِ وَعَدُوَّكُمْ وَآخَرِينَ مِن دُونِهِمْ لاَ تَعْلَمُونَهُمُ اللّهُ يَعْلَمُهُمْ وَمَا تُنفِقُواْ مِن شَيْءٍ فِي سَبِيلِ اللّهِ يُوَفَّ إِلَيْكُمْ وَأَنتُمْ لاَ تُظْلَمُونَ**﴾ [انفال: 60]

***ژباړه:*** *له هغو سره (د مبارزې لپاره) چې څومره کولای شئ مادي او معنوي ځواک او زین کړي آسونه چمتو کړئ، ترڅو په دې توګه د الله دښمن او خپل دښمن وډار کړئ او هغه نور دښمنان هم وویروئ، چې تاسو یې نه پېژنئ، خو الله یې پېژني. هر هغه څه (جګړه‌ییز تجهیزات)چې د الله په لاره کې یې مصرف کړئ، د هغو بشپړه بدله به تاسو ته درکړل شي او هېڅ ډول ظلم به درسره ونشي.*

پر مرز پیره کول ښایي کم او یا زیات وخت وي؛ په یوه سیمه کې که د مرز ساتلو په موخه هر څومره پاتې شئ، هغه که کم وخت وي او که زیات، پر مرز پیره ګڼل کېږي. له همدې امله رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلي دي: (رباط یوم) یعنې یوه ورځ پر مرز پیره کول او په بل روایت کې (یوم و لیلة) یعنې یوه شپه و ورځ.

خپله خبره د رسول الله صلی الله علیه وسلم په دغه قول سره پای ته رسوو، چې فرمایي:

**«حرس لیلة في سبیل الله أفضل من ألف لیلة قیام لیلها وصیام نهارها»**

ژباړه: *د الله په لاره کې یوه شپه پیره کول، د زرو شپو له قیام او روژو څخه غوره دي.*

**ژباړن: صهیب منصور**